پوهنوال مست علي ( نیازی )
ښوونې او روزنې پوهنځی
تاریـــــخ څانګې استاد

# د صدارت پر مهال د محمد موسی شفیق لاسته راوړنې او تېر وتنې

## ۱۳۷۲ ل کب ۲۲ مه _ ۱۳۵۲ ل کال د چنګاښ ۲۶ مه

**لنډیز**

محمد موسی شفیق د مولوي محمد ابراهیم کاوي زوی په ۱۳۱۰ ل ۱۳۹۱ ز کال د کابل په ښار کې زېږېدلی پلار یې یو دیني عالم و . لومړنۍ او منځنۍ زده کړې یې د ننګرهار په نجم المدرسه او ابوحنیفه مدرسه کې بشپړې کړي . لوړې زده کړې یې د مصر په الازهر اوپه امریکا کې د حقوقو په څانګه کې یې پای ته رسولي دي . د عدلې په وزارت کې یې دنده پیل کړه چې د حقوقو په پوهنځي کې یې د استادۍ دنده یې هم درلوده . نوموړی د ډاکتر محمد ظاهر له استعفا وروسته د ۱۹۷۲ ز کال د دسمبر په ۷ مه نېټه د ظاهرشاه له خوا د کابینې په جوړلو موظف شو نوموړي پرته له کوم جنجال څخه د اعتماد رایه واخسته ( فریاد افغان نجم الدین ، ۱۳۸۴ ، م . ۳۰-۳۰).

محمد موسی شفیق یو لېر سیاسي نارونه وکړل چې د نعمه کړلاره اوس هم د تطبیق وړ ده . ده ګاونډیانو سره د ښو اړیکو د ټینګولو په موخه ایران سره هم خپله ستونزه حل کړه او له پاکستان سره یې خبرې پیل کړې وې . ده ټینګار کاوه چې له ګاونډیانو سره د ښو اړیکو پرته د افغانستان پرمختګ یو ستونزمن کار دی . اوس د افغانستان خلک د ګاونډیانو له خوا له ستونزو سره مخ دي او دهېواد د اقتصادي او سیاسي وضیعت په ډېر ضعیف حالت

Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

کې دي باید له گاونډیانو سره د اختلاف د حل لپاره لازم کړنلاره هم تر سره شي تر څو په افغانستان کې جګړه ختمه او هېواد پرمختګ وکړي .
شفیق کوښښ کاوه چې د هېواد د پرمختګ لپاره د بهرنیو هېوادو مرسته جلب کړي اوس هم لمنې ستونزه ده د باندنیو هېوادو له مرستې پرته دهېواد پرمختګ او حتی سیاسي ثبات ستونزمن دی .
شفیق د صدرات پر مهال د یو شمېر اقتصادي پروژو بنسټ کېښود او د صنعتي بانک جوړولو کوښښ یې وکړ . اوس مهال د بهرنیو هېوادونو پانګونې ته جدي اړتیا ده د هغه کړنلاره اوس هم د تطبیق وړ ده .
په دې مقاله کې د شفیق مهمې لارسته راوړنې ، ستونزې او تېروتنې تحلیل او څېړل شوي دي .

**سریزه**

د ۱۳۴۳ ل کال د اساسي قانون له تصویب وروسته یو شمېر گوندونو تاسیس د بیان ازادۍ په نسبتي ډول مینځ ته راغله ، پارلمانۍ سرته روسیدې ځینو سیاسي خوځښتونو د دیموکراسۍ د دروې پنځه واړه صدراعظمان له ستونزو سره مخ او استعفا ته یې اړ ایستل . پاچا پوه ، باتجربه اشخاص لکه ډاکتر محمد یوسف ، محمد هاشم میوندوال ، نور احمد اعتمادي ، ډاکتر عبدالظاهر او وروستی صدارعظم دصدارت د څوکۍ لپاره وټاکل هر یو صدراعظم هڅه کوله چې د هېواد وضیعت تر کنترول لاندې راولي او هېواد د پرمختګ له پاره لاره هواره کړي . خو د دیموکراسۍ د دورې اخرني صدراعظم محمد موسی شفیق د صدارت پر مهال هڅه وکړه چې د هېواد او داخلي وضیعت په خواکې له گاونډیانو سره هم اړیکي ښې کړي. په همدې

ketabton.com - The Digital Library

موخه یې له ایران سره د هلمند اوبو د وېش تړون لاس لیک کړ او له پاکستان سره د ستونزو د حل لپاره یې هڅې پیل کړې وې خو د داود خان له خوا د ۱۳۵۲ لمریز کال د کودتا له امله د شفیق ، اقتصادي او سیاسي پلانونه نیمګړي پاتې شول . خو محمد شفیق په لنډه موده کې د پام وړ کارونه سرته ورسول چې په معاصر تاریخ کې د هغه لاسته راوړنې د اهمیت وړ دي .

## موخه

تر څو محلصین او زمونږ د ټولنې ځوان قشر پوه شي چې محمد موسی شفیق څه لاس ته راوړنې درلودې او کومې تېروتنې د هغه لپاره ستونزې را پیدا کولې.

د موسی شفیق د کارونو په اړه د سوچه معلومات د تهیه تر څو ځوانان د هغه په اړه په قضاوت له تېروتنې وژغورل شي . ځکه چې ګوندونو د هلمندو اوبو د تړون لاس لیک په اړه د ده په باره کې ډیر منفي تبلیغات کړي .

## پوښتنې

۱ـموسی شفیق دصدرات پر مهال کومې لاسته راوړنې درلودې ؟

۲ـ موسی شفیق د صدرات پر مهال کومې تېروتې کړي ؟

## اهمیت

محمد موسی شفیق د دیموکراسۍ د دورې له مهمو صدراعظمانو څخه دی حتی د دولت په ۱۳۹۲ لمریز کال د ده د کالیزې د لمانځلو پر مهال د هغه اقتصادي کړنلارې تائید او وعده یې وکړه چې هغه ته به پېراختیا ور کړي . همدا ډول ځوانانو هم په ځانګړې ډول محصلین د موسی شفیق له نوم سره

ketabton.com - The Digital Library

بلـدیت لـري خـو د هغــه د کړنــو پــه ځــانګړي ډول د هلمنــد اوبــو د تــړون پــه اړه د هغــوي ســره پوښــتنې موجــودې دي خــدای (ج) د وکــړي چــې د مقــالي مطالــب د دوې پوښــتنې تــر یــوه حــده پــورې حــل کــړي او د هېــواد مســول چــارواکو بایــد د شفیق په څېر هوښیار ، ځیرک او هېواد ته وفادار واوسي .

## د څېړنې میتود او کړنلاره

د دې مقــالې د لیکنــې او څېړنــې بنــه کتــابتوني ده چــې دلیکنــې پــر مهــال هڅــه شــوې چــې لــه غــوره علمــي سرچینو ، معتبرو او نویــو چــاپ شــویو اثــارو څخــه ګټــه واخســتل شــي او راټــول شــوي مطالــب پــه مناسب ځــایونو کــې پــه مــنظم ډول ځــای پر ځای شوي وي .

د لیکنــې ژبــه یــې د پوهېــدو وړ ده ګــران محصــلین او د تــاریخ مینــه وال پــه اســانۍ ســره تــرې ګټــه اخســتلی شــي ، لــه ځینــو اســتادانو ســره چــې د شــفیق پــه اړه معلومــات درلــودل ، یــاده موضــوع مطرحــه او د هغــوي د نظریــاتو څخــه هــم ګټــه اخستل شوي.

## تېرو لیکینو ته کتنه

موسی شــفیق لــه یــو کــال څخــه لــږ وخــت د صدرات پــه څــوکۍ بانــدې کــار وکــړ خــو هغــه پــه دغــه لنــډه مــوده کــې د اهمیــت وړ کارونــه وکــړل چــې د هېــواد پــه سیاســي وضعیت باندې یې اغېز در لوده .

۱ ـ لومــړي رســما اعــلان وکــړ هغــه مــامورین چــې مقرریــږي او د کــار لــه عهــدې وتلی نه شي له دندې څخه لرې کېږي .

۲ـ د کــابینې غــړي بایــد مخکنیــو وزیرانــو پــه اړه لــه غیبــت او بــد ویلــو څخــه منــع کړي .

ketabton.com - The Digital Library

۳ـ د سواد زده کړې اداره يې جوړه کړه .

۴ـ د کرنې وزير عبدالوکيل په مرسته يې يو شمېر ځړځايونه جوړ کړل .

۵ـ هغه محدوديتونه چې د مخکنيو حکومتونو له خوا د اسلام د مقدس دين په ځانګړو پروګرامونو باندې وضع شوي تر يو حده له منځه يوړل .

۶- د ده د حکومت په اداره کې د ده په حکم د افغانستان د راډيو په نشراتو کې د هر وخت د لمانځه پر مهال د محمدي اذان کول پيل شول .

۷ـ د کابل د نوي ښار د حاجي يعقوب په څلور لارې د غلغلې د ښار په نوم يو هوټل ( رستورانت ) چې د عياشۍ مرکز وه هغه يې بند کړ .

۸ـ د ځينو سفيرانو له مخالفت سره سره د کابل په ښار کې يې د کليسا د تخريب امر صادر کړ .

۹ـ د هلمند د اوبو موضوع چې له ډېره وخته د دواړو هېوادو تر منځ يوه ستونزمنه مساله وه، خو نوموړي حل کړه . د پښتو نشان موضوع پر سر له پاکستان سره خبرې پيل کړې وې تر څو د حل لاره پيدا کړي خو متاسفانه چې وخت يې پيدا نه کړ ( فرياد ، ۱۳۸۴ ، م. ۳۰۴ ) .

۱۰ ـ د موسى شفيق د صدرات پر مهال يوه غټه ستونزه د ۱۳۲۹ – ۱۹۷۲ ز کلونو وچکالي وه ، شفيق د دې مصيبت د رفع کولو په خاطر يوه معقوله چاره وکړه . هغه خپل د کرنې وزير ډاکټر عبدالوکيل موظف کړ ، هغه د يوه منظم پلان له مخې دا ستونزه حل کړه .

۱۱ـ نړيوال بانک يې په دې قانع کړ چې په شمال او شمال لويديځ کې منظم ځړځايونه او مسلخونه جوړ کړي چې له دې درکه سل ميلونه ډالره د افغانستان خزانې ته راتلل . ډاکټر وکيل بهرنيو هېوادونو ته د ترکاريو د

ketabton.com - The Digital Library

صادراتو پروژه هم ترتیب او تائید کړې وه . د نوموړي ډېرې پروژې تر کار لاندې وې چې کودتاه پرې وشوه ( عطايي ، ۱۳۸۹ ، م . ۲۷۴ ) .

۱۲_ له لویدیځو هېوادونو سره د ښو اړیکو په پیدا کولو په جرت لاس پورې کړ او ددې ابتکار لومړنۍ نتیجه دا شوه چې د برتانیې حکومت له خوا پاچا لندن ته دعوت شو .

۱۳_ د صنعتي پراختیا بانک په نوم یې د یو بانک د جوړېدو طرحه وړاندې کړه چې د امریکې ، برتانیې ، فرانسې او جاپان په پانګه باید جوړ شي ،. همدې هېوادونو د مرستې ژمنې هم وکړ ي . خو بیا هم دا ټولې چارې هغه وخت د یو بنسټ په بڼه وې چې د یوه ښه پیل په توګه منل کېدای شي دا ځکه چې د ده د حکومت دوره ډېره لنډه وه ( الکو، ۱۳۸۷ ، م . ۱۰۰ )

۱۴_ سلطان شاه حصاري لیکي : (( چې محمد موسی شفیق د افغانستان او ایران تر منځ د ستونزو د هواری او راتلونکو دښو اړیکو د جوړېدو په موخه د ۱۳۵۱ لمریز کال د کب په ۲۲ مه د ۱۳۹۷ ز کال د مارچ په ۱۳ مه نېټه په کابل کې د موسی شفیق او د ایران د صدراعظم امیر عباس هویدا تر منځ په ۱۲ کې د هلمند د اوبو تړون لاس لیک شو .)) ( سلطان شاه ، ۱۳۹۴ ، م . ۱۸۴ ) .

۱۵_ موسی شفیق په ۱۹۲۳ ز کال د عدلیې وزارت معین په ۱۹۲۲ ز کال د بهرنیو چارو وزارت مشاور ، وروسته په قاهره کې سفیر په ۱۹۷۱ ز کال د بهرنیو چارو وزیر او وروسته په ۱۹۷۲ کال د ډسمبر په ۲۴ مه صدراعظم شو . فرهنګ د شفیق په اړه داسې نظر لري . (( معلومه نه ده چې کله یې نږدې او مشخصې اړیکې پیدا کړې خو وروسته معلومه شوه چې د محمد داود خان

ketabton.com - The Digital Library

د صــدرات دوره کــې يــې لــه شــاه ســره فکــري تبادلــه درلــوده . د رســمي مناســاتو ســربېره يــې لــه شــاه ســره شخصــي دوســتانه اړيکــې درلــودې ، احتمــال لــري چــې ډيموکراســۍ تــه دشــاه پــه تشــويق کولــو کــې بــه يــې اغېزنــاک رول لوبــولی وي د هغــه هوښــيار او وينښ ســړی وی ذکــاوت او جــرات درلــود او خپلــو اهــدافو تــه د رســيدو لپــاره يــې نقشــه جوړولــه ... )) د ديموکراســي لپــاره د پاچــا تشــويق د ده يــو ستره لاس ته راوړنه او برياليتوب و .( خليلی ، ۱۳۹۳ ، م . ۱۷۸ ) .

۱۲ _ فاطمــه گيلانــي د هلمنــد د اوبــو تــړون يــوه ښــه لاس تــه راوړنــه گڼــي پــه دې اړه داســې نظــر لــري : (( شــفېق لــومړنی صــدراعظم و چــې دنــورو صــدراعظمانو بــرخلاف يــې خپــل نظــر مطــرح کــاوه او د هغــه د تطبيــق لپــاره يــې اجــازه تــر لاســه کولــه ، د ده کــړنلاره پــه داخــل دنظــم د ټينگــوالي او بهــر کــې د تعــادل را مــنځ تــه کولــو پــه خــاطر يــې د شــوروي او لويــديځ ســره دمناســباتو پــه اړه ډېــر فکــر کــاوه او هڅــه يــې کولــه چــې د ايــران او عربــي هېــوادو مرســته جلــب کــړي لــه ايــران ســره يــې د اخــتلاف رفــع کولــو پــه خــاطر د هلمنــد د اوبــو تــړون د ايــران لــه صــدراعظم اميــر عبــاس هويــدار ســره پــه ۱۹۷۲ ز کــال کــې لاس ليــک کــړ او دا دې د شــفېق د حکومت يوه ستره لاس ته راوړنه وه .) ( ظاهر طنين ، ۱۳۸۴ ، م . ۱۲۵ ) .

۱۷_ صــباح الــدين کشــککي هــم مثبــت نظــر لــري او ليکــي : (( پاچــا داســې فکــر کــاوه چــې تــر څلوېښــتو کــالو تېريــدو وروســته يــې د کــار وړ او رښــتينی ســړی يــې د صــدارت د نــدې لــه پــاره پيــدا کــړی دی . شــفېق لــه هغــه واک څخــه چــې پاچــاه ده تــه ور کــړی و ډېــره گټــه واخيســته چــې د ســلطنتي کــورنۍ ځينــې غــړي او کــېنې لاســي د ده لــه هڅــو پــه ويــره کــې وو ، ځکــه هغــوي د يــو رغنــده هــوډمن مشــرتوب د

ketabton.com - The Digital Library

خپلې مخې ته ليده . چې په راتلونکي کې واک ته د هغوي د رسېدو مخه نيسي ...)) ( صباح الدين کشککي ، ١٣٨٩ ، م . ١٠٢ ) .

١٨ ـ د هلمندو د اوبو د تړون د لاس ليک څخه وروسته د دواړو هېوادونو تر منځ شکونه کم او ايران او افغانستان تر منځ د جګړې پارونکي جذبات ختم شول ( عبدالصمد ، ١٣٧٨ ، م . ١١٩ ) .

**تېروتنې**

١ ـ دهلمند د اوبو په تړون کې ايرانيانو ته په افغانستان کې د تفتش اجازه ور کړه چې دا کار د افغانستان پر ملي حاکميت باندې يو ښکاره تېری و .

٢ ـ ډېر صدراعظمان تېر شول ولې يو هم په دومره چټکې سره د داسې يوې مسلې ته لاس نه دی اچولی، ده دا ووه مياشتو په موده کې دومره کار وکړ او په تړون کې دا ذکر شوي وه چې د ايرانيانو شکايت په وجه د نيمروز خلکو اجازه نه درلوده چې د هلمند پر سيند باندې د ابګردان بندونه جوړ کړي ( فراهي ، ٢٠٠٢ ، م . ٢١٢ ) .

٣ _ له چيپانو سره د ښو اړيکو نه ساتل څکه هغوي د ده پر ضد د هغه هر اقدام پر ضد منفي تبليغات کول او په خلکو کې يې د ده پر ضد منفي ذهنيت زياتېده .

٣ـ شفيق استدلال کاوه چې دهلمند او پښتونستان د موضوعاتو د حل وروسته به دافغانستان د پرمختګ له پاره لاره هواره شي ، د ده هيله صحيح وه خو ددې موضوعاتو په ځانګړي ډول د پښتونستان مساله د ده له وس څخه بهر او ده ته يې ډېرې ستونزې پيدا کولې .

ketabton.com - The Digital Library

## پایله یا موندنې

ښاغلی محمد موسی شفیق ډېر لیوالـه وه چې افغانستان لـه ډېر ژر پرمختـګ وکړي او دپرمختیـایي هېـوادو پـه قطـار کـې ودرېږي . همـدې مـوخې تـه د رسېدو لپـاره یـې لـه ایران سره د هلمنـدو اوبـو تـړون لاس لیـک کـړ تـر څـو د افغانسـتان او ایـران تـر مـنځ دا کـړکېچ خـتم شـي او د ایـران لـه مرسـتو څخـه د افغانسـتان پـه پرمختـګ کـې ګټـه واخلـي او لـه پاکسـتان سـره یـې د پښتونسـتان د مسـالې د حل پـه خـاطر یـې خبرې پیـل کـړې وې تـر څـو لـه ګاونډیانو سره سـتونزې حـل کـړي او لـه هغـوي سـره د دوسـتانه اړیکـو لـه ټینګېـدو وروسـته د افغانسـتان پرمختـګ شـونی دی . چـې ده پـه دې اړه و ویـل : (( همدغـه علـت دی چـې افغانســتان وروسـته پـاتې شـوی دی اوس مـا فیصـله کـړې چـې د افغانسـتان ټـولې سـتونزې حل کړم وروسته به تاریخ پر ما قضاوت وکړي . )) ( فراهی ، ۲۰۰۲ ، م . ۲۰۲ ) .

د موسـی شـفیق کـړنلاره پـه اوس وخـت کـې هـم د تطبیـق وړ ده ځکـه یـوازې لـه ایـران سـره د چابهـار د بنـدر پـه خلاصـېدو سـره د افغانسـتان ډېـرې اقتصـادي سـتونزې حـل او لـه پاکسـتان سـره د اړیکـو خـړ پړشـا هـم د افغانسـتان پـر وضـیعت منفـي اغېـزه کـړې ده ، هیلـه ده چـې لـه ټولـو ګاونـډیانو سـره زمـونږ اړیکـې د موسـی شـفیق د وړانـدوینې او هیلـو سـره سـم شـي تـر څـو افغانسـتان پـه موازنـه توګه پرمختګ وکړي .

پـه کابـل کـې د کلیسـا او دعیاشـي د مرکـز بنـدول دا لـه اسـلامي غوښـتنو سـره سمون در لود د ده دا کار د داخلي نظم په ټینګښت کې مهم رول در لود .

ده پارلمـاني ټـاکنې وځنډولې تـر څـو مـونږ یـو روڼ انـده او پـر مختللـی پارلمـان ولـرو ده ویـل : زه بـه پـه را تلـونکي کـې ډېـر تعلـیم یافتـه خلـک بـه د شـورا د

ketabton.com - The Digital Library

غړیتـوب لپـاره تشـویق کـړم او د دوئ سـره بـه مرسـته وکـړم تـر څـو یـوه باسـویه شورا منځ ته راشي ( فراهی ، ۲۰۰۲ ، م . ۱۰۵ ) .

د استونزه اوس هم په افغانسـتان کې شـتون لـري کـه چېرتـه دولـت هڅـه وکړي بـا سـواد خلـک روڼ انـدي وهڅـوي او ملاتـړ یـې وکـړي چـې شـورا تـه لا پیـدا کـړي زمـونږ ملي شـورا بـه پـه راتلـونکي کې ډېـرې سـتونزې حـل کـړي او هڅـه بـه وکـړي چې د دولت په چارو کې علمي او قانوني نظارت وکړي .

دا موندنـه لاس تـه راغلـه چـې کـینې اړخـو د شـفیق تولـو کـارونو پـه تېـره بیـا د هلمنـد د اوبـو د تـړون موضـوع پـه اړه ډېـر نـاوړه تبلیغـات کـول ، هغـوي د شـفیق هـر ښـه کـار تـه د حسـادت پـه سـترګه کتـل . ځکـه شـورویانو او د هغـوي پلویـانو شـفیق اخـواني بالـه او هغـه یـې د خپلـو ګټـو ضـد ګاڼـه ،. شـورویانو پـه ا افغانسـتان کـې د اسـلامي نظـام ، انګریزانـو ، امریکـا تـه منسـوباوه خـو اصـلي خبـره دا وه چـې شـورویانو د شـفیق د عمـل ازادي نـه شـوه زغمـلای ځکـه موسـي شـفیق نـه غوښـتل چـې مشخصـه تو ګـه د شـوروي اتحـا د ه غـاړه کـې ځـان واچـواي خـو شـوروي چپـي طاقتونـه د شـفیق پـر ضـد لمسـول ، ښـه بـه وي چـې پـه دې اړه د افغانسـتان د خلـق دیموکراتیـک ګونـد د پـرچم د اړخ د لـوړ پـوړې چـارواکي او لیکـوال محمـد نبـي عظیمـي نظـر ولیکـو چـې نومـوړي پـه خپلـه لیکنـه کـې زمـونږ پورتـه نظـر تائیـد کـړی دی . محمـد نبـی عظیمـي لیکـي : (( محمـد موسـی شـفیق اخـرین صـدراعظم د همـه قـانون اساسـی و دیموکراسـی اسـت وي بـه سـهولت رای اعتمـاد از شـورا بدسـت اورده و کـلا بـه خـود همنـوا سـاخت در دوره وی مسـله فـروس آب هلمنـد بـه دولـت ایـران بـا مشـکلات زیـادی را بـه وی خلـق کـرد ، و شخصـیت اورا در بـین مـردم و عـوام النـاس پـایین اورد . امـا موسـی شـفیق بیـا

ketabton.com - The Digital Library

زرنـگ بـود و توانسـت بـا توضـيح جنبـه ای مثبـت قـرار داد اعضـای شـورا را قـانع سـاخته و از هـر دو مملکـت بگزرانـد موسـی شـفيق کـه در مصـر تحصـيل کـرده بـود از لحـاظ مفکـوره پيـرو اخـوان المسـلمين بـود . رهـايي گلبـدين حکمتيـار و همرزمـان اخـوانی هـا و يـرا توسـط موسـی شـفيق صـورت گرفـت او دشـمني و اشـتی ناپـذيری بـا چپـي هـا داشـت ، ولـي از حمايـت شـخص پادشـاه برخـودار بـود . وسـعی داشـت تـا از مـداخلات اعضـايي خـانواده شـاهي در امـور مملکـت جلوگيری کند .. )) ( عظيمی ، ۱۳۷۷ ، م . ۵۸ ) .

پورتـه ليکنـه د محمـد موسـی شـفيق د چيپـانو او شـوروي اتحـاد تـر مينـځ اړيکـې او مفکورو اختلاف روښانه کوي .

**مناقشه**

د محمـد موسـی شـفيق پـه اړه ډيـرو ليکنـو کـې نومـوړی يـو زړور ، هوښـيار پـوه صـدراعظم معرفـي شـوی . ځينـو نومـوړی اخوانيـانو تـه نـږدي اوحتـی اخـوانی ګڼـي خـو شـفيق يـو هيـواد پـال ، هوښـيار صـدراعظم وچـې يـوازيني هيلـه يـې د هيـواد پرمختـګ و . چيپـانو نومـوړی د هلمنـد د اوبـو د تـړون د لاس ليـک وروسـته يـو وطـن فـروش او خـاين معرفـي کـړ . خـو ده وکـولی شـول چـې د يـاد تـړون مثبتـي خـواوې خلکـو پـه ځـانګړي ډول ملـي شـورا تـه توضـيح کـړي او دهغـوي ملاتـړې خپـل کـړ ، چـا چـې د نومـوړي پـر ضـد منفـي تبليغـات کـول هغـوي سـره سياسـي سـتونزه درلـوده . او د پاچـا کـورنۍ لکـه داود خـان ، سـردار شـاه ولـي خـان او سـردار ولـي هـم پـه ده پسـې منفـي تبليغـات کـول ، ځکـه هغـوي د ده پـه شـتون کـې ځـان لـه قـدرت څخـه لېـرې احساسـاوه ، خـو کلـه چـې داود خـان پـه **۱۳۵۲** ل کـال کودتـاه وکـړه بيـايې پـه خپلـه د ده تړونونـه تائيـد کـړل او د داود

ketabton.com - The Digital Library

خان په واکمنۍ کې د هلمند تړون د ملګرو ملتونو په اسنادو کې قید شو . د نورو پر خلاف پاچا په خپله ویلي و چې د هلمند د اوبو وېش مساله زما پر اوږو بار خو اوس حل شوه ډېر راضي یم . د موسی شفیق د صدارت دوره د دیموکراسي په دوره کې ځانګړي ځای لري چې ده به د افغانستان د اقتصادي او سیاسي وضیعت بنه بدله کړي وه خو د داود خان د کودتاه پواسطه د ده حکومت له مینځه ولاړي .

**پایله اخیستنه**

محمد موسی شفیق چې د ډاکتر عبدالظاهر په کابینه کې وزیر و ، د ۱۹۷۲ ز کال د دسمبر په میاشت کې صدراعظم شو شفیق په خپله کابینه کې په صباح الدین کشککي ډېر اعتماد کاوه ، په مصر کې یې تحصیل کړې د اخوانیت تعهدات یې لرل ، له شورا سره یې ښې اړیکې درلودې . که څه هم له مخکې (۴) پوه صدارعظمان د دیموکراسۍ په دوره کې استعفا ته اړ شوي و ، . خو شفیق د یوې ځانګړې کړنلارې پواسطه وتوانیده چې وضیعت تر خپل کنترول لاندې راوړي . ترڅو په هېواد کې د اقتصادي فعالیتونو لپاره لار هواره کړي ،دده په نظر د هلمند او اوبو او پښتونستان د مسالي د افغانستان د پرمختګ مخه ډب کړې وه ده غوښتل چې دا دواړه ستونزې هوارې کړي د هلمند اوبو تړون خو یې لاس لیک کړ او د پښتونستان د مسالې لپاره یې له پاکستان سره خبرې پیل کړې وې خو وخت یې پیدا نه کړ ، د صنعتي بانک د جوړېدو په موخه هم هڅې پیل کړې تر څو د لوید یځو هېواد پانګونه جذب کړي. شفیق داسې اراده درلوده چې نومړی به د افغانستان د اقتصادي پرمختګ لاره خلاص کړي خو په دې برخه کې یې

ketabton.com - The Digital Library

لاژمـي کړنـې هـم تـر سـره کـړې . شـفیق تقریبـاً پـه اووه میاشـتنۍ دوره کـې د بـرې لاسته راوړنې در لودلې .

**وړاندیزونه**

د افغانســتان چــارواکي د پرمختــګ لــه پــاره بایــد لــه ګاونډیانوســره سیاســي موخې درک او د هغوي د کړنو په مقابل کې ورته سیاست غوره کړي .
پـه داسـې نـازکو حـالاتو کـې بایـد مسـولین وضـیعت ترکنتـرول لانـدې د راوسـتلو په موخه افغانانو کې ملي روحي پیاوړي کړي .
د هېـواد سیاسـي ګوندونـه بایـد لـه خپلـو ګونـدي ګټـو څخـه د هېـواد ملـي ګټـو تـه لومړیتــوب ور کــړي ترڅــو د هېــواد دا کــړکېچن حالــت تــه د پــای ټکــې کیښــودل شي .

ketabton.com - The Digital Library

## ماخذونه


۱_ الکو ، محمد اسحق. ( ۱۳۸۷ هـ ل ) . داود خان دکی . جی . بی په لومو کې . کابل : میوند خپرندویه ټولنه .

۲_ خلیلی ، ذاهد . ( ۱۳۹۳ ل ) . د دیموکراسی دلسیزی صدراعظمان . ننګرهار : دانش خپرندویه ټولنه .

۳_ صفاري ، سلطان شاه . ( ۱۳۹۴ هـ ش ) . د افغانستان د بهرنیو اړیکو تاریخ . کابل : مستقیل خپرندویه ټولنه .

۴_ طنین ، ظاهر . ( ۱۳۸۴ ) . افغانستان در قرن بیستم . ایران :

۵_ عطايي ، محمد ابراهیم . ( ۱۳۸۹ ل ) . د افغانستان پر معاصر تاریخ یوه لنډه کتنه . کابل : میوند خپرندویه ټولنه .

۶ _ عظیمی ، محمد نبی . ( ۱۳۷۸ هـ ش ) . اردو وسیاست درسه ده اخیر افغانستان . جلد اول و دوم ، چاپ سوم . پیښور : مرکز نشراتی میوند سبا کتابخانه .

۷_ ثوث ، عبدالصمد . ( ۱۳۷۸ ل ) . د افغانستان سقوط . ژباړن داکتر شیرزمان طایزی ، پیښور : دانش خپرندویه ټ،لنه .

۸_ فراهي ، عبدلغفار . ( ۲۰۰۲ م ) . افغانستان د دیموکراسي او جمهوریت په کلتو کې . پیښور : دانش خپرندویه ټولنه .

۹ _کشتککي ، صباح الدین . ( ۱۳۸۹ ل ) . د اساسي قانون لسیزه . ژباړن داود خان لیوال . کابل : میوند خپرندویه ټولنه .

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*